# د افغانستان اسلامي امارت

# د لوړو زده کړو وزارت

# خـــــــراسان پوهنتون

# علمي چارومعاونیت

# کــمـــپیــوټر ساینس پوهـــــنځی

## دکمپیوټر ساینس  پوهنځي ریاست د رئیس د کړنو
## کلنی راپور

(۱۴۰۲المریز کال)

# هغه فعلیتونه چې د کال په جریان کې کمپیوټر ساینس پوهنځي درئیس لخواترسره شويدي په لاندي ډول دي.

هغه فعالیتونه چی د پوهنځي علمیاتي پلان له مخې او کاري پلان چې د ندو لايحو او د ستراتيژيک پلان له مخې جوړړ شوی او تطبیق شويدي.

- کمپیوټر ساینس پوهنځي څانګی ټولو فرعی  کمیټو خپل فعالیتونه او ربعوار راپورونه په خپل وخت ترسره کړی او مربوطه مرجیعو ته یی لیږلی دی
- د پوهنځي د نمایده په صفت د پوهنتون علمي شورا کې ګډون شویدی .
- او هغه فعالیتونه چی د پوهنتون ریاست او مربوطه مرجیعو څخه کمپیوټر ساینس پوهنځي ته راجع شوی دی، پخپل وخت او زمان سره ترسره شوی دی.
- د پوهنځي علمي شورا غونډې په خپل وخت او زمان سره دایر شویدي  او هغه پریکړې چې په علمي شورا کې کیږي په تطبیق کې يي لازم اجراات ترسره شوی دی.
- د پوهنځي د رئیس په صفت مې هرو دوو میاشتو کې د محصلانو نماینده ګانو سره غونډې کړي او د هغوي مشکلات او وړاندیزونه مې په خپل و خت او زمان سره ترسره کړي دی. د محصلانو ستونزو او مشکلاتو ته په وخت توجه شویده.
- همدارنګه د پلان له مخې پوهنځي ټولو استادانو سره غونډې دایرې شوی او د هغوي مشکلات، وړاندیزونه او نیوکې چې په ټولو تدریسی ، اداري او نورو برخو کې وې، لاس رسي او حل شویدي او یاد مشکلات او ستونزی د حل په موښه په کتبی ډول ریکارډ شوی هم دی.

- د غوره تدريسي چاپيريال د برابرولو په موخه د محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو تر منځ د مرستې کلتور غښتلی شويدی او همدارنګه محصلينو د عملی زدکړو لپاره مو وخت په وخت د نوی او عصری ټکنالوژی پر مټ کمپيوټری ليبونه اپډيت کړی دی.

- محصلانو ته د اړوند د انګليسي په برخه کې د اړوند استادانو لخوا د ليکلو کورنۍ دندې ورکړل شوېدي او نوی محصلينو ته مو د DEL وړيا يو کلنه برنامه تهيه کړی ده چی د کمپيوټر ساينس پوهنځی ټول محصلين تری د لمړی کال په شروغ څخه تر فراغت پوری بی له کوم فيس ورکول څخه استفاده کوی .

- د کمپيوټر ساينس پوهنځي استادانو ته د څېړنې د ميتودولوجي او پروسيجر سره د اشنايي په موخه ورکشاپونه يوه لويه لړی د کتور پامير شمس له طريقه دایر شويدي ده ترڅو په ۱۴۰۳ هـ ش کال کی وکولای شو چی ډير استادانو مو په نړيوالو جورنالو کی ترسره شوی ريسرچونه خپاره کړی.

- د محصلانو او اداري تر منځ د مناسبو اړيکو په موخه د تولنيزو رسنيو او د پوهنتون د LMS څخه په موثر ډول کار اخيستل شويدی او همدرانګه د E-Learning کميټی له طريقه مو محصلينو او کارمندانو ته ټرينګونه هم ورکړی دی.

- د کمپيوټر ساينس پوهنځي علمي او اداري کارمندانو ته د MIS سره د آشنايي په موخه بيلابيلي جلسې ترسره شوې. همدارنګه د وخت په تېرېدو سره په ياد سيستم کې د پرمختګونو په منځ ته راتګ سره کارمندانو سره د آشنايي ناستې ترسره شوې.

- د کمپيوټر ساينس پوهنځي ژمن دی چې خپلې ټولې چارې د لوړو زده کړو وزارت د لوايحو او قوانينو په رڼا کې ترسره کړي. چې دې اصل ته د احترام په موخه ياد پوهنځي د وزارت لخوا د د کمپوټر ساينس پوهنځی تائيد شوی کريکولم په پوره معنی تطبيق کړی.

- د تحصيلي کال په شروع کې تاکيد وشو چې ټول استادان به تر ارزيابي وروسته د ضعف اوقووت په موخه تدابيري پلانونه جوړوي.چی ټولو استادانو دا کارکړيدي.

- د د کمپیوټر ساینس پوهنځي کاري ټیم د تدریسي کیفیت د ښه والي او سهولت په موخه د پوهنځي د مختلفو سمسترونو زده کړیالانو ته د هغوی د سویې مطابق د سافټ ویرونو د زده کړې لنډمهالي کورسونه دایر او ځینې یې اوس هم روان دي او همدارنګه ډیر محصلینو مو د ټولنی شته مشکلاتو د حل په موښه د نوی او عصری ټکنالوژی پر مټ توانیدلی دی چی مختلیفو ادارو ته کمپوټرایز سیستمونه ارایه کړی.

- د کیفیت د تضمین د مختلفو پروسو او پړاونو سره د کاملې آشنایي په موخه د پوهنځي د علمي کادر غړو تر منځ ناستې ترسره شوي دي، او د پوهنځي هر علمي کادر غړی د کیفیت د تضمین په کارونو مکلف او په کمېټو کې غړیتوب ورکړل شویدی.

- زده کړیالانو سره د چټک او بهتر مکالماتي سیستم او د زده کړیالانو ستونزو او پوښتنو ته پر وخت د لاسرسي په موخه د واتسپ ګروپونه تنظیم او همدارنګه د LMS څخه په استفادې د زده کړیالانو پوښتنو ته په وخت په ځواب ورکول او نورو باندې تاکید شویدی. او عملا ترې استفاده شوېده.

- همدارنګه محصلین وخت په وخت د تشویق او هڅونې په موخه د ټولګیو ممتاز محصلین په ډالیو او تصدیقونو نازول شویدي.
- د کال د غوره استاد د نومولو او تقدیر په موخه په سمستر وار ارزیابي کار او تاکید شویدی.

- د پوهنځي د تضمین کیفیت کمېټې تر چتر لاندې کوشش شویدی چې د تضمین کیفیت ۱۱ اصلي او ۴۹ فرعي معیارونه په تمامه معنی تطبیق شویدی.

- د کمپیوټر ساینس پوهنځی د پوهنتون د بریښنایي زده کړو دمرکز سره په همغږي هڅه کړېده چې د ټولې منابع لکه کمپیوټرونه او نور د وخت د اړتیاوو سره په برابرو سافټ ویرونو سمبال او عملاً یې زده کوونکو ته تدریس کړي.

- محصلانو ته د مسلکي انکشاف لپاره کافی اندازه د فرصتونو نه شتون.

- استادان هڅول شویدي، چې په ملي ژبو د کتابونو تالیف او ترجمې ته اولویت ورکړي.

- كوښښ شويدی چې د لومړي سمستر محصلانو ته ځيني مضامين د باتجربه استادانو لخوا تدريس شي.
- د کمپيوټر ساينس پوهنځي برحاله اوفارغ محصلانو سره د WhatsApp له طريقه اړيکي نيول شويدي اودمحصلانو پوښتني او غوښتني حل شويدي.
- محصلينو دعلمی ظرفيت لوړوني په موخه دساحوي شبکو نيټورکونو څخه ليدنه کړيده.
- په بهاري او خزاني سمسترونو کې د استادانو ارزونه چې د ديپارتمنت او تضمين کيفيت فرعي کميټې له لوري ترسره شوی دي څارنه شوی او نهای نتايج يي تائيد او د سمستر غوره استاد په معنوي ډول ساتل شوی دی.
- د علمي برنامو د کلنی بياکتنې پروسه چې د تضمين کيفيت کميټې او امرد ديپارتمنت له خوترسره شوی ، نظارت کړي او چې د پوهنځي د علمی شورا له تائيد وروسته د تضمين کيفيت مرکزي کميټې ته استول شوی دي.
- همدارنګه هغه نمګړتياوې او نيوکې چې د لوړو زده کړو وزارت تضمين کيفيت هئيت له لوري دې پوهنتون او بلخصوص د کمپيوټر ساينس پوهنځي ته راجع شوی دی، په اړه جدی اجراات ترسره شوی دی.
- د کمپيوټر ساينس پوهنځي د محصلانو لپاره دعملي کار په موخه د يو شمير دولتي او غير دولتي ادارو سره ناستې شوی ترڅو د محصلانو لپاره د عملي کار زمينه سازی ترسره شي.
- همدارنګه محصلانوتشويق شوی چې د صنفی پروژی پرځای Research وکړي ترڅو دماسترۍ زده کړو په پای کې په اسانۍ سره مؤثره څېړنې ترسره شوی.
- د کريکولم د تطبيق څخه نظارت شوی او د کريکولم کميټې څخه وخت په وخت راپور اخستل شوی دي.
- همدارنګه د امتحاناتو له پروسې څخه څارنه شوی او اطمينان حاصل شوی دي.
- د نظم او دسپليني چارو څخه هم اطمينان اخيستل شوی او ټولې هغه ستونزي او مشکلات چې رامنځته شوی دی د مربوطه کميټې له خوا په ښه شکل حل شوی دی.

- کمپیوټر سیانس پوهنځي محصلینو ته مو د اخری کال پووژی ترسره کولو په موښه مو ورته تیسزس لیکولو او نیټورک او پورګرامینګ په برخه کی سمینارونه ورکړی دی ترڅو محصلینو و کولای شی چی خپل نهایي پروژه په ټاکلی وخت ترسره کړی.

- د اتم سمتسر محصلینو ته مو د پروژو ترسره کولو لپاره رهنماء استادان هم معرفی کړی دی.
- فرهنکی کمیټی د کال شروع څخه تر پای پوری خپل فعالیتونه په منظم ډول اجراا کړی دی چی د کړنو راپور یی وخت په وخت د هری کمیټی ترڅنګ مربوط مر جیعو ته لیږلی دی.

په درنښت

نصرالله کمشیرخان

د کمپیوټر ساینس پوهنځي رئیس